**د افغانستـــــان اســــــــلامي امارت**

**د ارشـــــــــاد، حج او اوقافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام عمومي رياست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير اوبيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي**

---

۲٤/ربيع الثاني /۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۲۵/ ميزان/۱۴۰۴هـ، ش

# د زړونو د سختوالي علتونه او د هغې علاج په قرآن او په سُنّت کې

**بسم الله الرحمن الرحيم**

ان الحمد لله نحمده ونستعينه ونستهديه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا وسيئات أعمالنا، من يهده الله فهو المهتد ومن يضلل فلن تجد له وليا مرشدا. والصلاة والسلام على المبعوث رحمة للعالمين وعلى آله وصحبه والتابعين وتابعيهم بإحسان إلى يوم الدين، أما بعد: قال الله سبحانه وتعالى:(أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ* اعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ). الحديد: (۱۷)

**درنو حاضرينو او محترمو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

د انسان په جسم کې يوه ډيره مهمه ټکړه موجوده ده، چې د انسان حقيقي او معنوي مرگ او ژوند ور پورې تړلی دی، چې زړه ورته ويلی شي.

زړه لکه چې د انسان د ژوند لپاره ډير مهم دی ، دارنگه په اسلامي شريعت کې ورته ځانگړې مقام ورکړل شوی دی او په اسلامي شريعت کې د پام وړ اهميت لري. په حديث شريف کې راځي، نبي عليه السلام فرمايلي دي: « إِنَّ اللَّهَ لاَ يَنْظُرُ إِلَى أَجْسَادِكُمْ وَلاَ إِلَى صُوَرِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ ». صحيح مسلم (۸/ ۱۱)

ژباړه: بيشکه الله تعالی نه گوري ستاسو جسدونو ته او نه ستاسو شکلونو ته ؛ بلکې الله تعالی گوري ستاسې زړونو ته.

لکه څرنگه چې زړه په ظاهري مرضونو اخته کيږي، لکه درد، زخمي کيدل او داسې نور ، همدارنگه زړه په باطني مرضونو هم اخته کيږي، چې ددغو مرضونو په قطار کې د زړه سختوالی دی.

کله چې په زړه کې سختوالی پيدا شي ، نو زړه فاسديږي او کله چې زړه فاسد شي، نو د وجود نور اندامونه د زړه د فساد تر تأثير لاندې راځي، لکه چې په حديث شريف کې راځي، نبي عليه السلام فرمايلي دي: « وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ ». متفق عليه

ژباړه: او په بدن کې يوه ټوټه غوښه ده(زړه) که چيرې هغه اصلاح شوه د انسان ټول بدن اصلاح کيږي او که هغه فاسده او خرابه شوه ټول بدن يې فاسديږي ـ خبر اوسئ چې هغه زړه دی . په حديث شريف کې راځي چې دا زړونه هم زنگ کيږي، لکه څرنگه چې اوسپنه زنگ کيږي.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَذِهِ الْقُلُوبُ تَصْدَأُ كَمَا يَصْدَأُ الْحَدِيدُ». حلية الأولياء (٨/ ١٩٧)،شعب الإيمان (٢/ ٣٥٢)، مسند الشهاب القضاعي (٢/ ١٩٨)

ژباړه: د عبدالله بن عمررضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه دا زړونه خامخا زنګ کیږي لکه څرنګه چې اوسپنه زنګ کیږي کله چې اوبه ورته ورسیږي.

د زړه د سختوالي څخه مراد د زړه څخه نرموالی له منځه تلل، د زړه څخه د رحمت او مهربانۍ له منځه تلل ، د زړه څخه خشوع او د الله جل جلاله د خوف له منځه تلل مراددي چې بیا سخت زړه په لمانځه کې او د عبادت پر وخت په خشوع نه پوهیږي، د قرآن کریم د تلاوت پر وخت نه ورته ژړا ورځي او نه د ژړا حالت خپلوي، د ګناهونو او مشتبهاتو شیانو څخه ځان نه ساتي، په خلکو ظلم کوي او دهغوی په حقوقو تجاوز کوي ، په سخت زړه کې جفاء وي او په نورو خلکو تل بدګمانه وي، دکورنیو ترمنځ صله رحمي قطع کوي.

امام قرطبي رحمه الله د زړه د سختوالي په تعریف کې وایې:(القسوةُ: الصلابة والشدة واليبس، وهي عبارة عن خلوِّها من الإنابة والإذعان لآيات الله تعالى). تفسير القرطبي (١/ ٤٦٢)

ژباړه: سختوالی، کلکوالي او سختوالي او وچوالي ته ویل کیږي او د زړه سختوالی دادی چې زړه خالي وي د منلو د الله تعالی د آیتونو څخه او خالي وي د الله تعالی آیتونو ته د غاړې ایښودلو څخه. د زړه سختوالی هغه مرض دی او د الله تعالی عذاب دی، چې الله تعالی یې مذمت بیان کړی دی.

الله تعالی یهود ددې وجی نه ورټل چې د هغوی زړونه سخت شول. (ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُمْ مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً) البقرة:(٧٤)

ترجمه: بیا سخت شول زړونه ستاسې پس له دغه (ژوندي کولو د مړي) نو دغه زړونه په مثال د تیږي دي (په سختوالي کې)

د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې:(فَصَارَتْ قُلُوبُ بَنِي إِسْرَائِيلَ مَعَ طُولِ الْأَمَدِ قَاسِيَةً بَعِيدَةً عَنِ الْمَوْعِظَةِ بَعْدَ مَا شَاهَدُوهُ مِنَ الْآيَاتِ وَالْمُعْجِزَاتِ، فَهِيَ فِي قَسْوَتِهَا كَالْحِجَارَةِ الَّتِي لَا عِلَاجَ لِلِينِهَا أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً من الحجارة). تفسير ابن كثير ط العلمية (١/ ١٩٨)

ژباړه: نو وګرځیدل زړونه د بني اسرائیلو سره د اوږدې زمانې سخت ، لرې له وعظ او پند څخه پس له هغې چې هغوی ولیدلې معجزې ، نو د هغوی زړونه په سختوالي کې د کاڼي په شان شول، هغه کاڼی چې د هغې د نرمولو لپاره هیڅ علاج نشته او یا د کاڼي څخه هم زیات سخت شول.

په یو بل آیت کې الله تعالی وایې چې ستاسو زړونه باید د اهل کتابو په شان سخت نه وي.

(وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ)الحديد: (١٦)

ترجمه: او نه دې کیږي (په سختوالي د زړه کې) په شان د هغو کسانو چې ورکړی شوی وو هغوی ته کتاب پخوا له دې څخه نو اوږده شوه په دوی باندې زمانه نو سخت شول زړونه د دوی او ډېر له دوی څخه فاسقان نافرمانان دي.

الله تعالی فرمایلي دي چې د سختو زړونو والا هلاک دې شي: (فَوَيْلٌ لِلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْ مِنْ ذِكْرِ اللَّهِ أُولَئِكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ) [الزمر:( ٢٢)

ترجمه: پس افسوس هلاک خرابي ده هغو کسانو ته چې سخت وي زړونه د دوی له ذکره د الله دغه کسان په ګمراهي ښکاره کې دي.

الله تعالى فرمايې چې په سختو زړونو کې الله تعالى ته تضرع او عاجزي نه وي.(فَلَوْلا إِذْ جَاءهُمْ بَأْسُنَا تَضَرَّعُواْ وَلَـكِن قَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ).الأنعام: (٤٣)

ترجمه: کله چې راغی دوی ته عذاب زمونږ نو ولې عاجزي و نه کړه دوی (چې ترې لرې شوی وی عذاب) او ليکن سخت شوي وو زړونه د دوی (نو ځکه يې ترې عبرت وانخيست) او ښايسته کړي وه دوی ته شيطان هغه کارونه چې وو دوی چې کول به يې.

الله جل جلاله فرمايلي دي چې شيطان خپلې وسوسې په سختو زړونو کې اچوي او د سختو زړونو والا بد بخته خلک دي.(لِيَجْعَلَ مَا يُلْقِي الشَّيْطَانُ فِتْنَةً لِّلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْ وَإِنَّ الظَّالِمِينَ لَفِي شِقَاقٍ بَعِيدٍ).الحج:(٥٣)

ترجمه: لپاره د دې چې وګرزوي (الله) هغه شی چې غورځوي يې شيطان ازمېښت لپاره د هغو کسانو چې په زړونو د دوی کې مرض د شک او نفاق دی او بل لپاره د هغو چې سخت دي زړونه د دوی او بېشکه ظالمان خامخا په مخالفت ډېر لرې کې دي له حقه.

سخت زړه د الله تعالى څخه غافله وي او د هغه څخه لرې وي او سخت زړه د حق او باطل ترمنځ تمييز نشي کولای او هيڅ ډول پند او نصيحت ورته ګټه نه رسوي.ټول ناوړه او ناروا خويونه او عادتونه په سخت زړه کې وي.

نرم زړه د الله تعالى د لويو نعمتونو څخه دی، د همدې وجې نه زمونږ ددين اکابرو دزړه د نرم والي خيال ساتلو او د زړه د سختوالي څخه يې ځانونه ساتل او خپلو دوستانو او شاګردانو ته به يې د زړه په اړه ځانګړې نصيحتونه کول.

حسن بصري رحمه الله به ويل: (حادثوا هذه القلوب؛ فإنها سريعة الدثور) حلية الأولياء وطبقات الأصفياء:( ٢/ ١٤٤)

ژباړه: خبرې کوئ ددې زړونو سره، ځکه چې دا زړونه ډېر ژر غافل کيدونکي دي.

يعنې د زړونو خاص خيال ساتئ او غفلت ته يې مه پرېږدئ او دائم يې د الله تعالى ذکر ته متوجه کوئ.
د زړه سختوالی د الله تعالى عذاب دی . حضرت مالک بن دينار رحمه الله فرمايلي دي:(ما ضرب عبد بعقوبة أعظم من قسوة قلب وما غضب الله على قوم إلّا نزع الرّحمة من قلوبهم) .تفسير القرطبي (١٥/ ١٦١) .
ژباړه: نه دی وهل شوی بنده په عذاب باندې چې هغه دې ډېر لوی وي د زړه د سختوالي څخه او الله تعالى په يو قوم نه دی په غضب شوی ، مګر داچې وباسي مهرباني د هغوی د زړونو څخه.
امام ابن حجر الهيثمي د زړه سختوالی چې محتاجو خلکو ته د طعام ورکولو څخه مسلمان رامنع کړي (٦١) يو شپيتمه کبيره ګناه ګرځولی ده .او په دې اړه يې دا حديث ذکر کړی دی، چې نبي عليه السلام حضرت علي کرم الله وجه ته وفرمايل:«يَا عَلِيُّ، اطْلُبُوا الْمَعْرُوفَ مِنْ رُحَمَاءَ أُمَّتِي تَعِيشُوا فِي أَكْنَافِهِمْ، وَلَا تَطْلُبُوهُ مِنَ الْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْ فَإِنَّ اللَّعْنَةَ تَنْزِلُ عَلَيْهِمْ» المستدرك للحاكم (٤/ ٣٥٧)، الزواجر (١/ ٢٢٦)
ژباړه: ای علی! (رضي الله عنه) نيکي ولټوه زما د امت رحم درلودنکو خلکو سره چې ستاسو په منځو کې اوسيږي او نيکي مه لټوه د هغه چا سره چې زړونه يې سخت دي ؛ ځکه په دوی د الله تعالى لعنت نازليږي.

## د سختو زړونو علامات او نقصانونه:

د زړه سختوالی ځينې علامې لري او زيات خطرونه او نقصانونه هم لري چې ځينې يې په لاندې توګه دي:
١-سخت زړه باندې وعظ، نصيحت او د قرآن کريم آياتونه هيڅ تأثير نکوي. د سخت زړه والا شخص د وعد او وعيد آيتونه اوري خو کوم تأثير ور باندې نکوي او نه يې په زړه کې ويره پيدا کيږي او د قرآن کريم له تلاوت څخه غافله وي .رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه زړه نه امان غوښتلی دی، چې په هغه کې خشوع نه وي او فرمايلي يې دي:( اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ). سنن الترمذي (٥/ ٥١٩)ژباړه: ای الله ! زه پناه غواړم پر تا دداسې زړه نه چې په هغه کې خشوع نه وي.

۲-په عبادتونو او طاعتونو کې او د خير په کارونو کې سستي کول. يا خو فرضي عبادتونه نکوي او ياېې کوي خو پرته له خشوع او خضوع څخه ، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: (فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ * الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلاتِهِمْ سَاهُونَ).الماعون:(٥)

ترجمه: پس هلاکت افسوس کنده د دوزخ يا خرابي ده لپاره د لمونځ کوونکو هغه کسان چې دوی له لمانځه خپله غافله بېخبره وي.

امام قتاده رحمه الله د " ساهون " په تفسير کې وايي: لمونځ پرېښودونکي او د لمونځ څخه غافلان وي، هغه کسان چې لمونځ کول او يا نه کول هيڅ باک نه ګڼي. المحرر الوجيز ، لابن عطيه ـ موافق للمطبوع (٥/ ٤٩٦)

۳-ددنيا سره زيات تعلق لرونکي وي او دنيا ته په آخرت باندې ترجيح ورکوي او ددوی هَم او هڅه او اصلي شُغل دنيا وي ، د همدې وجې نه دوی په حسد، انانيت او بُخل باندې اخته وي.

۴-په زړونو کې يې د الله تعالی تعظيم کمزروی وي او په زړونو کې يې د ايمان لمبه مړه وي، نو د الله د محارمو په پايمالولو نه خپه کيږي او نه ور باندې په غوسه کيږي اونه معروف پيژني او نه منکر پيژني او د ګناه کول هيڅ باک نه ګڼي.

۵-د چا په زړه کې چې سختي وي،په زړه کې يې يو ډول وحشت او تورتم وي اوسينه کې يې تنګي وي،تل قبلاًناارامه وي او هيڅ قلبي سکون نلري.

## د زړونو د سختوالي علتونه:

د زړونو سختوالی زيات علتونه لري ، چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

**۱-غفلت:** غفلت ډېرخطرناک مرض دی، کله چې په زړونو حمله وکړي او په زړونو باندې را چاپيره شي او په جوارحو مسلط شي، نو د هدايت د ټولو دروازو د تړلو سبب شي. الله تعالی د غافلو زړونو والاو په اړه مونږ ته خبر راکړی دی او فرمايلي يې دي چې غافلان د سختو زړونو والا دي چې زړونه يې نه نرميږي او نه پند اخلي له وعظ او نصيحت څخه باوجود ددې چې دوی سترګې لري او د شيانو ظاهرپړې ويني، مګر حقائق د اشياوو پرې نه ويني او د ګټې او تاوان ترمنځ توپيرورباندې نشي کولای.همدارنګه دوی غوږونه لري چې باطل ور باندې اوري لکه درواغ، فحش وينا، مګر دوی حق ورباندې نه اوري چې هغه د الله تعالی کتاب او د رسول الله صلی الله عليه وسلم سُنت دي.

الله تعالی دغافلانو په اړه فرمايلي دي:(وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِنَ الْجِنِّ وَالإِنْسِ لَهُمْ قُلُوبٌ لاَ يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لاَ يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لاَ يَسْمَعُونَ بِهَا أُولَئِكَ كَالأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ). الأعراف:( ۱۷۹)

ترجمه: او خامخا په تحقيق پيدا کړي دي مونږ لپاره د جهنم دوزخ ډېر کسان له جن (پيريانو) او له انسانانو چې دي دوی لره (داسې بې معنی) زړونه چې هيڅ نه پوهيږي دوی په هغو سره حق له باطله او دي دوی لره داسې بې فائدې سترګې دي چې نه ويني دوی په هغو سره نښې د قدرت او دي دوی لره داسې بيکاره غوږونه چې نه اوري په هغو سره (آيتونه د الله) دغه کسان په شان د چارپايانو دي (د نفساني امور په اتباع کې) بلکه دوی چې مکلفان دي ډېر ګمراهان دي له چارپايانو ځنې دغه کسان همدوی دي غافلان کاملا په بې خبری کې.

**۲-د ګناهونو او مُحرَّماتو ارتکاب:**

د زړونو د سختوالي بل علت د محرماتو او زياتو ګناهونو کول دي. ګناه ولو که وړه هم وي د نورو ګناهونو او جرمونو کولو لپاره د تمهيد حيثيت لري او نورو جرمونو او ګناهونو ته لار هواروي ؛ تر دې پورې چې انسان په ګناهونو کې ډوب شي او بيا په اصرار سره او يو په بل پسې ګناهونه او جرمونه کوي او په زړه کې يې هيڅ خطر نه ګرځي او داسې مرحلې ته ورسيږي چې د ګناهونو او جرمونو په کولو معتاد شي او په زړه کې يې د الله تعالی ويره ورکه شي او د الله تعظيم يې په زړه کې کمزوری شي.

لکه چې په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ العَبْدَ إِذَا أَخْطَأَ خَطِيئَةً نُكِتَتْ فِي قَلْبِهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ، فَإِذَا هُوَ نَزَعَ وَاسْتَغْفَرَ وَتَابَ سُقِلَ قَلْبُهُ، وَإِنْ عَادَ زِيدَ فِيهَا حَتَّى تَعْلُوَ قَلْبَهُ، وَهُوَ الرَّانُ الَّذِي ذَكَرَ اللَّهُ» {كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ} [المطففين: ١٤]. «هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ» سنن الترمذي ت شاكر (٥/ ٤٣٤)

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، د هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: بيشکه بنده کله چې يوه خطا (گناه) وکړي؛ نو دده په زړه کې يو تور داغ پيدا شي؛ کله چې هغه له گناه څخه لاس وباسي او بخشش وغواړي او توبه وباسي؛ نو زړه يی سپين شي او که چيرې بيا هغې گناه ته ور وگرځي؛ نو د زړه هغه داغ يې زيات شي؛ آن تر دې پورې چې ټول زړه ورلره ونيسي ؛ نو پس دا هغه مهر دی چې الله تعالی يې ذکر کړی دی: {كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ} [المطففين: ١٤].

ترجمه: نه ده داسې لکه چې وايي منکران بکه زنگ اچولی دی پر زړونو د دوی هغو گناهونو چې وو دوی چې کول به يې.

**۳-د مرگ او د مرگ د سختيو هيرول ، د قبر او د قبر د عذابونو هيرول:**

ځومره ويره او ترس دی مرگ لره او ځومره ويره او ترس دی د قبر!

او ځومره لوی زړه به وي او ځومره سخت زړه به وي، چې د مرگ له هيبت او د قبر له هيبت څخه غافله وي!

عن عَائِشَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، كَانَتْ تَقُولُ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ بَيْنَ يَدَيْهِ رَكْوَةٌ - أَوْ عُلْبَةٌ فِيهَا مَاءٌ، فَجَعَلَ يُدْخِلُ يَدَيْهِ فِي المَاءِ، فَيَمْسَحُ بِهِمَا وَجْهَهُ، وَيَقُولُ: «لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ». صحيح البخاري (٨/ ١٠٧)

ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی، چې هغې به ويل: بيشکه د نبي عليه السلام په مخ کې يوه غړکی وه (د پوستکي جوړه) او يا يی داسې وويل چې لوښی ؤ( د لرگي) چې په هغې کې اوبه وې، نبي عليه السلام به په هغې کې لاسونه ننويستل په اوبو کې او بيا به يې په دواړو لاسونو مخ مبارک مسح کولو او ويل به يې: لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، بيشکه مرگ لره بيهوښی دي.

د امام احمد په روايت کې راځي چې نبي عليه السلام به د وفات کيدو پر وخت داسې ويل:( اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى سَكَرَاتِ الْمَوْتِ).مسند أحمد (٤٠/ ٤١٥)ژباړه: ای الله! ته زما سره مرسته وکړئ د مرگ په بيهوښيو کې.

**۴- د دُنيا سره زيات تعلق درلودل او په دنيا کې او ددنيا په لذتونو کې مشغوليدل:**

سره ددې چې دا دُنيا بې ارزښته ده او د الله تعالی په نزد د ماشي د وزر په اندازه ارزښت نلري؛ مگر بيا هم د سختو زړونو والا خلک ور پورې زړه تړي او ددې فاني دنيا په لذتونو او خوندونو پسې گرځي او په دې کې مشغوله وي. الله جل جلاله ددنيا د حقيقت په هکله فرمايلي دي:(اعْلَمُوا أَنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرّاً ثُمَّ يَكُونُ حُطَاماً وَفِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَمَغْفِرَةٌ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٌ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ ) الحديد(٢٠)

ترجمه: پوه شئ تاسې (ای تشې دنيا خوښوونکيو) چې بېشکه دغه ژوندون لږ خسيس خوشې بې فائدې لوبې او بېکاره عبث مشغولتيا او زينت ښايست او فخر لويي کول دي په منځ ستاسې کې يو په بل باندې او ډېروالی دی په اموالو او ډېروالی دی په اولاد کې په مثل د نباتاتو د باران دي چې تيزې ځمکې باندې اوري ښه ښکاري ناشکرانو کوونکو لره زرغونه د دغه باران بيا وچه شي دا گيا نو پس وبه ويني ای کتونکيه هغه زرغونه يا نبات زېړ شوی پس له شينوالي د هغه بيا شي هغه وچ واښه مات تار په تار او په آخرت کې عذاب شديد سخت دی لپاره د هغه چاچې منگولې يې ولگولې په تشو دنيوي امورو او آخرت ته يې شا کړه او مغفرت ښښنه ده لويه له جانبه د الله او رضوان رضاء خوښي ده هغه چا ته چې مشغول شي په اخروي امورو او دنيا ته شا کړي او نه دی دغه ژوندون لږ خسيس مگر دی متاع اسباب د غرور د غولېدلو چې نه پاتې کيږي.

امام عبدالقادر جيلاني رحمه الله ددنيا په اړه فرمايي: (القلبُ يصدأ، فإن تداركه صاحبه بما وصف النبي صلى الله عليه وسلم، وإلا انتقل إلى السواد؛ يسودُّ لبُعْده عن النور، يسودُّ لحبه الدنيا والتحويز عليها مِن غير ورع؛ لأنه من تمكَّن مِن قلبه حبُّ الدنيا، زال وَرَعُه، وزال حياؤه من ربه عز وجل). كتاب الزهد؛ لابن أبي حاتم،ص: ٨.

ژباړه: زړه زنګ وهي ، که چيرې مالک يې په هغه طريقه چې نبي عليه السلام فرمايلي دي تدارک ونکړي؛ نو توروالي ته به منتقل شي، تور به شي، د نور څخه لرې دی، تور به شي ځکه چې ددنيا سره محبت ساتي او دنيا را ټولوي پرته له تقوی څخه او داځکه چې د چا زړه ته دنيا لار ومومي ، نو له هغه څخه تقوی پورته کيږي او د خپل رب جل جلاله څخه حياء ورڅخه پورته کيږي .

د زړونو سختوالی د الله تعالی له لورې يو ډول عذاب دی؛ ځکه چې کله څوک د الله تعالی د نعمتونو شکر اداء نکړي او د الله تعالی نعمتونه دده د ګمراهی سبب وګرځي؛ نو الله تعالی د عذاب په توګه د هغه زړه سخت کړي. الله تعالی فرمايلي دي: (فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَاقَهُمْ لَعنَّاهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَاسِيَةً) [المائدة:( ١٣)

ترجمه: نو په سبب د ماتولو د دوی د کلکې وعدې خپلې وعدې خپلې لعنت وکړ مونږ پر دوی او ګرځولي دي مونږ زړونه د دوی سخت (چې هيڅ پند نه اخلي).

**٥-د نفسي خواهشاتو پيروي:** د نفسي ناوړه او ناروا خواهشاتو پيروي او تابعداري د انسان د زړه د سختوالي علت دی.

الله تعالي فرمايلي دي:( أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَهَهُ هَوَاهُ وَأَضَلَّهُ اللَّهُ عَلَى عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَى سَمْعِهِ وَقَلْبِهِ وَجَعَلَ عَلَى بَصَرِهِ غِشَاوَةً فَمَنْ يَهْدِيهِ مِنْ بَعْدِ اللَّهِ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ)الجاثية: (٢٣)

ترجمه: آيا پس وينې ته هغه څوک چې نيولی وي ده معبود خپل خواهش (د نفس) خپل او ګمراه کړی وي ده لره الله په علم باندې چې استعداد يې ورته معلوم دی په ازل کې يا سره له علمه.

**٦-بې فائدې زياتې خبرې هم د زړه د سخت والي له علتونو څخه دي.** په حديث شريف کې راځي:«لَا تُكْثِرْ الْكَلَامَ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللَّهِ فَإِنَّ كَثْرَةَ الْكَلَامِ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللَّهِ قَسْوَةُ الْقَلْبِ وَإِنَّ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنْ اللَّهِ - تَعَالَى - الْقَلْبُ الْقَاسِي» . سنن الترمذي (٤/ ٦٠٧)

ژباړه: زياتې خبرې مه کوئ علاوه د الله تعالی د ذکر څخه، بيشکه زياتې خبرې کول د الله تعالی د ذکر څخه علاوه د زړه سخت والی دی او بيشکه له خلکو څخه ډير لرې شخص د الله تعالی څخه هغه سخت زړه دی. يعنې د سخت زړه والا دی.

## د سختو زړونو علاج په قرآن او سُنّت کې:

الله تعالی د هر ظاهري او باطني مرض لپاره دواء او علاج راليږلی دی ، لکه چې په حديث شريف کې راځي: «مَا أَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى مِنْ دَاءٍ إِلَّا وَلَهُ دَوَاءٌ». المسند للشاشي (٢/ ١٨٥)ژباړه: نه دی نازل کړی الله تعالی هيڅ مرض، مګر شته دی د هغه علاج.

او په قرآن کريم او نبوي سُنّتو کې د هر ډول مرض علاج موجوددی، په خاصه توګه د زړه د مرضونو علاج. الله تعالی فرمايلي دي:(يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَاء لِّمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ). يونس:(٥٧)

ترجمه: ای خلقو! په تحقيق راغلي ده تاسې ته موعظه (پند) له جانبه د رب ستاسې او شفاء دارو لپاره دهغو (ټولو روحاني امراضو) چې دي په سينو ( دخلقو کې دجهالت) او هدايت او رحمت دی لپاره د مؤمنينو.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايلي دي:(قال العسل شفاء من كل داء والقرآن شفاء لما في الصدور) بحر العلوم ـ موافق للمطبوع (٢/ ٢٨١) ژباړه: شهد د هر مرض لپاره شفاء ده او قرآن کريم شفاء ده د هغو مرضونو لپاره چې په سينو (زړه) کې دي.

د زړه سختوالي لپاره په قرآن کريم کې او نبوي سُنّتو کې مختلف ډول علاجونه ذکر شوي دي چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

**۱-په خشوع او خضوع ، غور او تدبر سره د قرآن کريم لوستل.** د قرآن کريم په آيتونو کې فکر کول، د قرآن کريم په وعد او وعيد کې سوچ او تدبر کول، د قرآن کريم په امر او نهی فکر کول او د قرآن کريم آيتونه د سترګو د نَم او اوښکو حالت سره لوستل او که په سترګو کې اوښکې نه راځي ، نو د ژړا حالت اختيارول. لکه چې نبي عليه السلام فرمايلي دي:« إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ نَزَلَ بِحُزْنٍ فَإِذَا قَرَأْتُمُوهُ فَابْكُوا فَإِنْ لَمْ تَبْكُوا فَتَبَاكَوْا ». السنن الکبری للبيهقي. ط المعارف بالهند (۱۰/ ۲۳۱)

ژباړه: بيشکه دا قرآن کريم نازل شوی دی د غمجنی سره ، کله چې تاسې قرآن کريم لولی، نو وژاړئ او که ژړلی نشی، نو حالت د ژړا اختيار کړئ.

کله چې قرآن کريم په خشوع او خضوع ، غور او تدبر سره ولوستل شي، نو په زړه کې نرمي پيداکوي او په زړه کې د الله تعالی څخه خوف او ويره پيدا کوي. الله جل جلاله فرمايلي دي:(اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُتَشَابِهًا مَثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ).الزمر:( ۲۳)

ترجمه: الله ټوټه ټوټه نازل کړی دی ډېر ښايسته خوږ کلام کتاب (او دغه پاک کتاب ډېر ښايسته خوږ کلام) مشابه يو له بل مکرر غبرګ دی چې لړزيږي رپيږي ځيک کيږي له ده پوستکي د هغو کسانو چې ويريږي له رب خپل بيا پاسته (آرام نيسي) پوستکي د دوی او زړونه د دوی طرف د يادولو د الله ته.په يو مبارک آيت کې راځي:( أَفَلا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَى قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا).محمد: (۲۴)

ترجمه: آيا فکر نه کوي دوی په قرآن کې؟ بلکه پر زړونو ( د دوی باندې) قلفون د زړونو د دوی دي.

همدا د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د هغه د اصحاب کرامو حال ؤ . په يو روايت کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم- « اقْرَأْ عَلَىَّ الْقُرْآنَ ». قَالَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ قَالَ « إِنِّى أَشْتَهِى أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِى ». فَقَرَأْتُ النِّسَاءَ حَتَّى إِذَا بَلَغْتُ (فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلاَءِ شَهِيدًا) رَفَعْتُ رَأْسِى أَوْ غَمَزَنِي رَجُلٌ إِلَى جَنْبِى فَرَفَعْتُ رَأْسِى فَرَأَيْتُ دُمُوعَهُ تَسِيلُ. صحيح مسلم (۲/ ۱۹۵)

ژباړه: د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې ماته رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ماته قرآن کريم قرا ئت کړه. هغه وايي چې ماورته وويل: ای د الله رسوله! آيا زه تاته قرآن کريم قرائت کړم حال داچې قرآن کريم پر تاسې نازل شوی دی؟ نبي عليه السلام وفرمايل: زه ددې خواهش لرم چې زه قرآن کريم له بل چا څخه واورم. نو ما د سورت النساء تلاوت شروع کړ تر دې پورې چې ما دا آيت تلاوت کړ: (فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا) النساء ۴۱

ترجمه: نو څرنګه (حال) به وي په هغه وخت کې چې راولو مونږ له هر يوه پخواني امت څخه يو شاهد د دوی له انبياوو څخه او راولو مونږ تا (ای محمده!) پر دغه (محمدي امت باندې) شاهد (احوال ويونکی). ما سر راپورته کړيا داچې زه يو سړي وسکوندلم چې زما په څنګ کې ناست ؤ،نو سر مې را پورته کړ،نو ومې ليدل چې اوښکې د نبي عليه السلام روانې دي.

په يو بل روايت کې راځي چې يوه ورځ عبدالله بن عمر رضي الله سورت (المطففين) لوستلو (فَلَمَّا بَلَغَ قَوْلَهُ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ بَكَى نَحِيبًا حَتَّى عَجَزَ عَنْ قِرَاءَةِ مَا بَعْدَهُ» . کله چې يې دا آيت ولوستلو: (يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ) ، نو سخت يې ژړل تر دې پورې چې د نور تلاوت څخه عاجزه شو. تفسير الرازي (۳۱/ ۸۵)

**۲-زیاته توبه ویستل او زیات ذکر کول او زیات استغفار ویل:** د زړه سختوالی نه ذوب کوي ، مگر د الله تعالی ذکر. الله جل جلاله فرمايلي دي: (الَّذِينَ آمَنُواْ وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللّهِ أَلاَ بِذِكْرِ اللّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ). الرعد: (۲۸)

ترجمه: دغه رجوع کوونکي هغه کسان دي چې ایمان يې راوړی دی او ارام نیسي زړونه د دغو په ذکر د الله سره واورئ خبردار شئ! چې په ذکر د الله سره مطمئن کيږي ارام نيسي زړونه (د مؤمنانو).

یو کس حسن بصري رحمه الله ته د زړه د سختوالي څخه شکایت وکړ. حسن بصري رحمه الله ورته وويل: ذوب يې کړه د الله په ذکر سره. روضة المحبين ونزهة المشتاقين: ۱۶۷.

**۳-د الله جل جلاله ربښتيني پيژندل:** د الله تعالی په ربښتیا سره پيژندل هم د زړه سختوالی له منځه وړي، ځکه څوک چې خپل رب په ربښتيا سره وپيژني، نو زړه يې نرميږي او په زړه يې کې خشوع او خضوع پيداکيږي او د الله تعالی څخه په هر حالت کې ويريږي، څوک چې خپل رب او خالق په ربښتيا وپيژني بيا د الله تعالی له حکمونو ، اوامرو او نواهيو څخه سرکشي نه کوي او د الله تعالی د رضا حاصلولو په لټه کې وي او څوک چې خپل رب په حقيقي معنا سره نه پيژني هغه په گناهونو زيات جرأت کوي او د الله تعالی څخه حياء نکوي.

**٤-د نفس سره مجاهده او مقابله کول او د نفس سره محاسبه کول د زړه سختوالی له منځه وړي.** کله چې انسان د خپل نفس سره مقابله کوي او هغه ناکاره خواهشات چې زړه يې غواړي ورڅخه ځان وساتي او کله چې د کومې گناه مرتکب شي،نفس ملامت کړي او په تقصير يې ملامت کړي ؛ نو دا ددې سبب کيږي چې زړه نرميږي او په زړه کې د الله تعالی د عذاب څخه ويره پيداکيږي.

همدا وجه ده چې زمونږ اکابرو صحابه کرامو او نورو بزرگانو د نفس سره محاسبه د گناهونو څخه د خلاصون مهمه لار بللې ده.

امام ترمذي رحمه الله ددې حديث (من دان نفسه) په معنا کې ليکي:( ومعنى قوله من دان نفسه يقول حاسب نفسه في الدنيا قبل أن يحاسب يوم القيامة .(ويروى عمر بن الخطاب قال حاسبوا أنفسكم قبل أن تحاسبوا). سنن الترمذي (٤/ ٦٣٨)

ژباړه: او ددې (دان نفسه) معنا داده څوک چې محاسبه وکړي د نفس خپل سره په دنيا کې مخکې له هغې چې د هغې سره محاسبه وشي د قيامت په ورځ.او د حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی چې هغه به ويل: محاسبه وکړئ د خپلو نفسونو سره مخکې له هغې چې تاسو سره محاسبه وشي.

**۵-د مرگ يادول او د مقبرو زيارت کول د زړه سختوالی له منځه وړي.**

د زړه سختي ددنيا سره د زيات محبت او د آخرت د هيرولو له وجې رامنځ ته کيږي، کله چې مسلمان مرگ او آخرت زيات يادوي او مسلمانانو په جنازو کې برخه اخلي اميد دی چې دده له زړه څخه به سختي لرې شي او يا به يې د زړه سختي کمه شي.

د چا زړه کې چې سختي وي بايد مقبرو او قبرستانونو ته ولاړ شي او د هغو خلکو حالت راياد کړي چې د خاورو لاندې پراته دي او تش لاس ددنيا څخه تللي دي.په حديث شريف کې راځي نبي عليه السلام فرمايلي دي چې:«وَاسْتَأْذَنْتُهُ فِي أَنْ أَزُورَ قَبْرَهَا فَأُذِنَ لِي فَزُورُوا الْقُبُورَ فَإِنَّهَا تُذَكِّرُ الْمَوْتَ » صحيح مسلم (۳/ ٦٥)ژباړه: ما (د خپل رب څخه) اجازه وغوښتله ددې چې زه د (مور بي بي) د قبر زيارت وکړم ، نو ماته يې اجازه راکړه، نو د قبرونو زيارت کوئ؛ بيشکه د قبرونو زيارت مرگ (انسان) ته يادوي.سعيد بن جبير رحمه الله به ويل: (لو فارق ذكر الموت قلوبنا ساعة لفسدت قلوبنا). ژباړه: که چيرې د مرگ يادول زمونږ له زړونو څخه جدا شي، نو خامخا زمونږ زړونه به فاسد شي.

**٦-د خيراتونو او صدقاتو ورکړه د زړه سختوالی له منځه وړي.**

د خيراتونو او صدقاتو ورکول او په بې وزلو، مسکينانو او يتيمانو خرڅه کول او د يتيم په سر دمهرباني لاس راکاږل د زړه د نرميدلو سبب ګرځي.

په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا شَكَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَسْوَةَ قَلْبِهِ فَقَالَ لَهُ:« إِنْ أَرَدْتَ تَلْيِينَ قَلْبِكَ فَأَطْعِمْ الْمِسْكِينَ وَامْسَحْ رَأْسَ الْيَتِيمِ». مسند أحمد (١٣/ ٢١)

ژباړه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې يو سړي نبي عليه السلام ته د خپل زړه د سختوالي څخه شکايت وکړ، نبي عليه السلام ورته وويل: که چيرې ته غواړې چې ستا زړه دې نرم شي، نو مسکينانو ته طعام ورکړه او د يتيم په سر د مهرباني لاس را کاږه.

**٧-د نيکانو او صالحِينو سره ناسته او د هغوی په مجلسونو کې کيناستل** د زړه سختوالی له منځه وړي. الله تعالی خپل خوږ پيغمبر ته فرمايي: (وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا) .الكهف:(٢٨)

ترجمه: او صبر کړه نفس خپل له هغو کسانو سره چې بولي عبادت کوي د رب خپل په سبا اول د ورځې او بيګا آخر د ورځې يعنې هر کله غواړي دوی مخ د الله تعالی او نه دې تيرېږي وړاندې دواړه سترګې ستا له دوی نه چې غواړې ته زينت ښايست د دې ژوندون لږ خسيس. او اطاعت مه کوه مه اوره خبره د هغه چا چې غافل کړی دی مونږ زړه د ده له ذکره زمونږ او متابعت يې کړی دی د هوا خپلې او دی کار د هغه تجاوز له حقه او غورځول د حق شاته او تجاوز له حدود الله.

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته**